ژباړه: «له نافع نه روايت دی چې وی فرمايل: عبد الله بن عمر د حرّ دقضيې پرمهال ديزيد بن معاويه په زمانه کې عبدالله بن مطيع ته ورغی. عبد الله بن مطيع وويل: ابو عبد الرحمن ته بالښت (تکيه) کيږدي. ابو عبد الرحمن عبد الله بن عمر وفرمايل: زه تاته د دې لپاره نه يم راغلی چې کښېنم بلکې د دې لپاره راغلی يم چې کوم حديث مې له رسول الله ﷺ څخه اوريدلی درته روايت کړم. وامې وريدل چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هرڅوک چې له اطاعت څخه لاس بهر کړی (واخلی) (داميرله اطاعت څخه سر غړونه وکړی) له الله ﷻ سره دملاقات په خاطر دهغه لپاره دقيامت پر ورځ هيڅ حجت نشته او هر څوک چې په داسې حالت کې ومري چې له هيڅ امير سره يې بيعت نه وی کړی، دجاهليت په مرګ مړ شوی دی».[1]

وايو: دغه حديث شريف دظالم حاکم په اړه او د هغه پروړاندي په صبرکوولو باندې هيڅ هم نه دی ويلی، داخو ډيره عجيبه ده چې دظالم حاکم پر وړاندي پرصبر کوولو دې پر دغه حديث استدلال وشي! داحديث شريف خو په اصل کې دعادل حاکم په اړه دی، او دهغه ربط په ظالم او جائرحاکم پورې تړل له دليل څخه پرته تحکيم دی.

١- صحيح مسلم (٦/٢٢) شماره (١٨٥١).

پنځم حديث:

امام مسلم رحمه الله فرمايي: «وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ عَسْكَرٍ التَّمِيمِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدَّارِمِيُّ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى وَهُوَ ابْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ سَلَّامٍ، عَنْ أَبِي سَلَّامٍ، قَالَ: قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا كُنَّا بِشَرٍّ، فَجَاءَ اللهُ بِخَيْرٍ، فَنَحْنُ فِيهِ، فَهَلْ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: نَعَمْ، قُلْتُ: هَلْ وَرَاءَ ذَلِكَ الشَّرِّ خَيْرٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، قُلْتُ: فَهَلْ وَرَاءَ ذَلِكَ الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: نَعَمْ، قُلْتُ: كَيْفَ؟ قَالَ: يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ، وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي، وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ، قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنْ أَدْرَكْتُ ذَلِكَ؟ قَالَ: تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ، وَأُخِذَ مَالُكَ، فَاسْمَعْ وَأَطِعْ».

ژباړه: **«محمد بن سهل بن عسکر تميمی روايت کړی چې حذيفه بن يمان وويل: ومې ويل ای دالله ﷻ رسوله! ﷺ مونږ په يوه بد حالت کې وو چې الله ﷻ مونږ دخير لورته هدايت کړو او اوس مهال مونږ په خير او ښيګڼه کې قرار لرو. آيا د دغه خير او رحمت تر شاه به بل شر وی؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: د دغه شر ترشا به هم خير وي؟ وی فرمايل: هوکې! ومې ويل: هغه څنګه؟ وی فرمايل: وروسته له ما څخه به داسې امامان وی چې زما په طريقه به هدايت نکوی او زما پر سنتو به عمل نکوی، او ډير ژر به دهغو له مينځه داسې کسان را پورته شی چې په هيأت کې انسان خو زړونه يې دشيطان دزړونو له جملې څخه دی. ومې ويل: ای د الله ﷻ رسوله! ﷺ که هغه موقع مې وموندله څه رنګه عمل وکړم؟ وې فرمايل: له خپل امير څخه د اطاعت کووه، حتی که تا ووهی او مال د واخلی بيا هم واوره او اطاعت وکړه».[1]**

او په يوبل روايت کې راغلی: «تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ، فَقُلْتُ: فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ؟ قَالَ: فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ عَلَى أَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ».

ژباړه: **«پيغمبر ﷺ وفرمايل: له جماعت او دمسلمانانو له امام سره اوسه. ومې پوښتل: که د هغه وخت مسلمانانو امام او جماعت نه درلود چاره څه ده؟ وی فرمايل: له ټولو هغو ډلو څخه کناره اوسه اګرکه د ونې ريښه په غاښونو ونيسی، ترهغه چې مرګ د را ورسيږی، اوته پر هم هغه (حالت) باندې يې».[2]**

۱- صحيح مسلم (۲۰/٦) شماره (۱۸۴۷).

۲- صحيح مسلم (۲۰/٦) شماره (۱۸۴۷).

وایو: لومړی: حافظِ محدث، سلیمان العلوان – الله ﷻ دی له زندان څخه را خلاص کړی فرمایی: «دغه زیادت مسلم رحمه الله په غیر اصول کې ذکر کړی دی، له طریق د: أبي سلام له حذیفه له پیغمبر ﷺ څخه او دا طریق یې معلول دی[۱] ځکه چې أبا سلام له حذیفه څخه سماع نه د درلودلی ! الدارقطني او دحفاظو یوه جماعت دا ویلی دی. او له بلی وجې له احمد څخه روایت شوی چې صحیح نه ده! او دا شان ابن حبان روایت کړی چې هغه هم معلول ده! نو په دې اړه له رسول الله ﷺ څخه څه په ثبوت نه دی رسیدلی. نو که داسې یو حدیث پیژندل شوی وای حتما صحابه وو پرهغه حدیث پر عبد الله بن عمرو بن العاص باندی احتجاج کولو کله یې چې دخپلي زمکې په دفاع کې دجګړي لپاره ځان تیار کړ![۲] داسې کیدله چې دخپل عصر له خلیفه سره یې جنګیدلی وی. دا پیښه په صحیح مسلم کې راغلی او عبدالله بن عمرو بن العاص په دغه حدیث سره احتجاج کړی چې: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»؛ «هرڅوک چې دخپل مال لپاره ووژل شي هغه شهید دی». انتهی.

دوهم: د دغه عبارت دصحت په فرض سره چې: «تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ، وَأُخِذَ مَالُكَ، فَاسْمَعْ وَأَطِعْ»، نو دا عبارت، دهغو کارونو په اړه دی چې امیر یې، پرحق او دشرعی دمقتضا مطابق هغه ترسره کووی، لکه دحدودو اقامه او تعزیرات او.

ممکن دلته څوک ووایې: څه رنګه رسول الله ﷺ په اطاعت کولو او اوریدلو سره امر کووی په داسې حال کې چې دا کار واجب دی؟

۱– یعنی دغه زیادت: «تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ، وَأُخِذَ مَالُكَ، فَاسْمَعْ وَأَطِعْ»؛ «له خپل امیر څخه دی اطاعت کوه، حتی چې تا ووهي اومال د واخلي اوبیایي هم واوره او اطاعت کوه».

۲– عنبسة بن ابو سفیان د معاویه له لوری (چې ورو او دوخت خلیفه وو) د طایف والی ټاکل شوی ؤ او دعمروبن العاص آل په طایف کې یوباغ درلود. عنبسه غوښتل دهغې چینې په اوبو باندې چې دباغ په مینځ کې وه بله زمکه خړوبه کړی د همدې لپاره غوښتل یې چې دهغه باغ دیوال ویجاړ کړی ترڅو اوبه دبلی زمکې لورته روانی شي، عبد الله بن عمرو بن العاص او پیروانو یې دخپلی زمکې د دفاع لپاره له سلاح سره رابهر شول او وی ویل په الله قسم ترڅو چې له مونږ څخه یو هم ژوندی وی نه پریږدو چې زمونږ دباغ دیوال وران کړی. په دې سره نږدې وو چې دواړه ډلی سره وجنګیږی. بیا خالد بن العاص چې دمکې والی وو ځان یې طایف ته ورساوه او عبد الله بن عمرو ته یې نصیحت وکړ ترڅو دعنبسه امر ته تسلیم شي په دې خاطر چې هغه دسلطی خاوند اودخلیفه ورور دی. عبد الله بن عمرو هم دې ته پام سره چې مخکې دمصر والی ؤ او دمعاویه له لورې عزل او پرځای یې بل ورور عتبه بن ابی سفیان وګومارل شو دا احساس کړه که دعنبسه امر ته تسلیم شي په حقیقت کې پر خپل ځان باندې یې ښکاره خواري، ذلت زورګویی او ظلم منلی دی، او دعزت وژل کیدلوته یې په ذلیلانه ژوندانه باندې ترجیح ورکړه او دخالد بن العاص په ځواب کې یې وویل: ای خالده! نه پوهیږی چې رسول الله ﷺ فرمایلی: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»؛ «هرڅوک چې دخپل مال لپاره ووژل شي نو هغه شهید دی». [دمترجم اضافهٔ]

وایو: د رسول الله ﷺ وصیت په دې خاطر وو چې ده عربان پیژندل او دهغوي په خوي او عادت باندې بلد ؤ چې عربانو یوه حاکم او... ته سر ټیټول خپل ننګ او عاربلی او چاته یې سر نه ټیټ وی. الشافعی رحمه الله فرمایی: «فقال بعض أهل العلم: ... وکانت تأنَف أن يُعْطِيَ بعضُها بعضا طاعةَ الإمارة. فلما دانت لرسول الله بالطاعة، لم تكن ترى ذلك يَصلح لغير رسول الله. فأُمِروا أن يُطِيعوا أولي الأمر الذين أَمَّرَهم رسول الله، لا طاعةً مطلقة، بل طاعة مُسْتَثْناة، فيما لهم وعليهم».

ژباړه: «بعضی له اهل علمو څخه وایی: عربانو به دا ننګ او عار بللو چې ځینو یی په امارت کې له ځنی نورو څخه دی اطاعت وکړی. او کله یې چې رسول الله ﷺ ته دا رنګه اطاعت کړی وو بغیر له رسول الله ﷺ نه یې بل چاته نشو قبلولی. له همدې امله امر ورکړل شو چې له هغه اولی الأمر نه چې رسول الله ﷺ هغه مأمور کړی اطاعت وکړی؛ هغه هم نه مطلق اطاعت بلکی مستثنا اطاعت کول په هغه څه کې چې پر دوی باندې او د دوی لپاره دی».[1]

اما استدلال یې درسول الله ﷺ پر دغې وینا سره چې: «تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ»؛ «دمسلمانانو له جماعت او امام سره یې اوسه» دظالم حاکم پر وړاندې دصبر وجوب چې دامامت اهداف او مقاصد یې اهمال کړی او پر هغو کې یې بې پروایې او تقصیر کړی، یو مرجوح استدلال دی او هغه ته اهمیت نه ورکول کیږی. ځکه له جماعت څخه موخه، هغه څه دی چې له حق سره موافق وی اومقصود له امام څخه هغه امیر دی چې پر امیر والی یې دنظر اتفاق شتون لری یعنی هغه ځوک چې خلک په کتاب او د رسول الله ﷺ په سنتو رهبری کوی.

امام الشاطبی رحمه الله وروسته له راوړلو له اقوالو داهل علمو څخه دجماعت دمعنا په تفسیر کې لیکی: «وَحَاصِلُهُ أَنَّ الْجَمَاعَةَ رَاجِعَةٌ إِلَى الِاجْتِمَاعِ عَلَى الْإِمَامِ الْمُوَافِقِ لِلْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ، وَذَلِكَ ظَاهِرٌ فِي أَنَّ الِاجْتِمَاعَ عَلَى غَيْرِ سُنَّةٍ خارج عن معنى الجماعة المذكورة فِي الْأَحَادِيثِ الْمَذْكُورَةِ كَالْخَوَارِجِ وَمَنْ جَرَى مُجْرَاهُمْ».

ژباړه: «حاصل دهغه دادی چې دجماعت معنا، راټولیدل پرهغه امام باندې چې دکتاب او سنت موافق وی ورګرځی، او ځرګندہ ده چې راجمع کیدل پر یو څه بغیر له سنت نه، دهغه جماعت له معنا څخه وتلی دی چې په دغه حدیث کې راغلي، لکه خوارج اوهغه کسان چې د دوي په څیر دی».[2]

۱- الرسالة د الشافعی (۸۰/۱).

۲- الاعتصام د الشاطبی (ت: الشقیر، والحمید، والصینی) (۲۱٦/۳).

او ابن القيم الجوزيه رحمه الله دسواد اعظم او جماعت معناى څرګنده او واضح کړى ده فرمايي: «وَاعْلَمْ أَنَّ الْإِجْمَاعَ وَالْحُجَّةَ وَالسَّوَادَ الْأَعْظَمَ هُوَ الْعَالِمُ صَاحِبُ الْحَقِّ، وَإِنْ كَانَ وَحْدَهُ، وَإِنْ خَالَفَهُ أَهْلُ الْأَرْضِ، قَالَ عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيُّ: صَحِبْت مُعَاذًا بِالْيَمَنِ، فَمَا فَارَقْته حَتَّى وَارَيْته فِي التُّرَابِ بِالشَّامِ، ثُمَّ صَحِبْت مِنْ بَعْدِهِ أَفْقَهَ النَّاسِ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ فَسَمِعْته يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ، فَإِنَّ يَدَ اللَّهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ، ثُمَّ سَمِعْته يَوْمًا مِنْ الْأَيَّامِ وَهُوَ يَقُولُ: سَيُوَلَّى عَلَيْكُمْ وُلَاةٌ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ مَوَاقِيتِهَا، فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِمِيقَاتِهَا؛ فَهِيَ الْفَرِيضَةُ، وَصَلُّوا مَعَهُمْ فَإِنَّهَا لَكُمْ نَافِلَةٌ، قَالَ: قُلْت يَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ مَا أَدْرِي مَا تُحَدِّثُونَ، قَالَ: وَمَا ذَاكَ؟ قُلْت: تَأْمُرُنِي بِالْجَمَاعَةِ وَتَحُضُّنِي عَلَيْهَا ثُمَّ تَقُولُ لِي: صَلِّ الصَّلَاةَ وَحْدَك وَهِيَ الْفَرِيضَةُ، وَصَلِّ مَعَ الْجَمَاعَةِ وَهِيَ نَافِلَةٌ قَالَ: يَا عَمْرُو بْنَ مَيْمُونٍ قَدْ كُنْت أَظُنُّك مِنْ أَفْقَهِ أَهْلِ هَذِهِ الْقَرْيَةِ، أَتَدْرِي مَا الْجَمَاعَةُ؟ قُلْت: لَا، قَالَ: إنَّ جُمْهُورَ الْجَمَاعَةِ هُمْ الَّذِينَ فَارَقُوا الْجَمَاعَةَ، الْجَمَاعَةُ مَا وَافَقَ الْحَقَّ وَإِنْ كُنْت وَحْدَك، وَفِي لَفْظٍ آخَرَ: فَضَرَبَ عَلَى فَخِذِي وَقَالَ: وَيْحَك، إنَّ جُمْهُورَ النَّاسِ فَارَقُوا الْجَمَاعَةَ، وَإِنَّ الْجَمَاعَةَ مَا وَافَقَ طَاعَةَ اللَّهِ تَعَالَى.

وَقَالَ نُعَيْمُ بْنُ حَمَّادٍ: إذَا فَسَدَتْ الْجَمَاعَةُ فَعَلَيْك بِمَا كَانَتْ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ قَبْلَ أَنْ تَفْسُدَ، وَإِنْ كُنْت وَحْدَك، فَإِنَّك أَنْتَ الْجَمَاعَةُ حِينَئِذٍ، ذَكَرَهَا الْبَيْهَقِيُّ وَغَيْرُهُ.

وَقَالَ بَعْضُ أَئِمَّةِ الْحَدِيثِ وَقَدْ ذُكِرَ لَهُ السَّوَادُ الْأَعْظَمُ، فَقَالَ: أَتَدْرِي مَا السَّوَادُ الْأَعْظَمُ؟ هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ أَسْلَمَ الطُّوسِيُّ وَأَصْحَابُهُ. فَمَسَخَ الْمُخْتَلِفُونَ الَّذِينَ جَعَلُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ وَالْحُجَّةَ وَالْجَمَاعَةُ هُمْ الْجُمْهُورُ وَجَعَلُوهُمْ عِيَارًا عَلَى السُّنَّةِ، وَجَعَلُوا السُّنَّةَ بِدْعَةً، وَالْمَعْرُوفَ مُنْكَرًا لِقِلَّةِ أَهْلِهِ وَتَفَرُّدِهِمْ فِي الْأَعْصَارِ وَالْأَمْصَارِ، وَقَالُوا: مَنْ شَذَّ شَذَّ اللَّهُ بِهِ فِي النَّارِ، وَمَا عَرَفَ الْمُخْتَلِفُونَ أَنَّ الشَّاذَّ مَا خَالَفَ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ النَّاسُ كُلُّهُمْ عَلَيْهِ إلَّا وَاحِدًا مِنْهُمْ فَهُمْ الشَّاذُّونَ.

وَقَدْ شَذَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ زَمَنَ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ إلَّا نَفَرًا يَسِيرًا؛ فَكَانُوا هُمْ الْجَمَاعَةُ، وَكَانَتْ الْقُضَاةُ حِينَئِذٍ وَالْمُفْتُونَ وَالْخَلِيفَةُ وَأَتْبَاعُهُ كُلُّهُمْ هُمْ الشَّاذُّونَ، وَكَانَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ وَحْدَهُ هُوَ الْجَمَاعَةُ، وَلَمَّا لَمْ يَتَحَمَّلْ هَذَا عُقُولُ النَّاسِ قَالُوا لِلْخَلِيفَةِ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَتَكُونُ أَنْتَ وَقُضَاتُك وَوُلَاتُك وَالْفُقَهَاءُ وَالْمُفْتُونَ كُلُّهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ وَأَحْمَدُ وَحْدَهُ هُوَ عَلَى الْحَقِّ؟ فَلَمْ يَتَّسِعْ عِلْمُهُ لِذَلِكَ؛ فَأَخَذَهُ بِالسِّيَاطِ وَالْعُقُوبَةِ بَعْدَ الْحَبْسِ الطَّوِيلِ؛ فَلَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ، مَا أَشْبَهَ اللَّيْلَةَ بِالْبَارِحَةِ، وَهِيَ السَّبِيلُ الْمَهْيَعُ لِأَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ حَتَّى يَلْقَوْا رَبَّهُمْ، مَضَى عَلَيْهَا سَلَفُهُمْ، وَيَنْتَظِرُهَا

خَلَفُهُمْ: {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا} [الأحزاب: ۲۳] وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاَللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ».

ژباړه: «پوه شه چې اجماع، حجت او سواد اعظم هغه عالم دی چې دحق خاوند وی، اګر که هم ایک یواځې وی، او اګرکه دزمکې ټول اهل یې مخالف وی. عمرو بن میمون الأودی فرمایی: په یمن کې له معاذ سره ملګری او هم صحبت یې وم له هغه څخه جلا نشوم تردې چې په شام کې یې وفات وکړاو هغه مو دخاوروته وسپاره. وروسته بیا له داناترینه دخلکو یعنی عبدالله بن مسعود سره ملګری او هم صحبت شوم، له هغه څخه مې واوریدل چې ویل یې: {له جماعت سره اوسي ځکه دالله تعالی لاس له جماعت سره دی}بیا مې یوه ورځ له ورځو څخه له هغه څخه واوریدل چې ویل یې: {ژرده چې دتاسو دامور عهده دار به داسې والیان شی چې لمونځ به له وختونو څخه تأخیر وی، نو تاسو لمنځونه په خپل وخت کې یې ادا کړي ځکه چې فریضه ده او له هغوسره یې هم اداکړی چې دتاسو لپاره نافله حسابیږی} عمرو بن میمون فرمایی: ومې ویل: ای دمحمد ﷺ صحابی زه نه پوهیږم چې څه وایې! عبد الله بن مسعود وفرمایل: څه شوی دی ؟ ومې ویل: ماته دجماعت سره په ملګرتیا امر کووي اوبیا ماته وایې چې لمونځ یواځې اداکړه چې فریضه ده او له جماعت سره یې اداکړه چې نافله دی! وی ویل: ای عمرو بن میمونه!: زه دا ګومان کوم چې ته د دې کلی له داناترینه کسانو څخه به یې آیا پوهیږی چې جماعت څه دی؟ ومې ویل نه. وی ویل: بی شکه جمهور (او ډله) دخلکو هغه کسان دی چې «جماعت» څخه جلا شوی دی. پوه شه جماعت هغه څه دی چې له حق سره موافق وی اګرکه تنها یی. او په یوبل لفظ کې داسې راغلی دی: زه یې پر شاه ووهلم او وی ویل: افسوس د وی پرتا! بیشکه جمهور دخلکو له دغه جماعت څخه جلا شوی دی پوه شه چې جماعت هغه څه دی چې دالله تعالی له اطاعت سره موافق وی. او نعیم بن حمّاد وایی: هرکله چې جماعت فاسد شو نو پر هغه څه چې جماعت مخکې له فساد څخه یې ووي پرهغه باندې منګولی ټینګې کړه، اګرکه تنها یې؛نو په دغه وخت کې به ته هم هغه جماعت یې. البیهقی او نورو دغه ذکرکړی دی. او ځنی امامانو داحادیثو ویلی دی چې دسواد اعظم په اړه یې هغه ته وویل: آیا پوهیږی چې سواد اعظم څه دی؟ هغه، محمد بن أسلم الطوسی او یاران یې دی. نو اختلاف کوونکو دسواد اعظم معنا بدله کړه او سواد اعظم حجت اوجماعت یې هم هغه دخلکو ډله وګرځوله اوهغه یې داهل سنت والی لپاره معیار وګرځاوه او معروف یې داهل دکم والی له کبله او یواځې توب یې په زمان اومکان کې منکر وګرځول او وایی: هرڅوک چې منحرف اوشاذ شی الله تعالی یې دشاذ والی له امله هغه په اورکې غورځوی! خو اختلاف کوونکي نه پوهیږی چې واقعیت کې شاذ هغه څه دی چې دحق مخالف وی اګرکه هم خلک پرته له یو تن څخه واړه پر هغه منحرف او شاذ

قرار درلودلی وی؛ نو دوی به خپله شاذ وي. په تحقيق سره داحمد بن حنبل په زمانه کې پرته له يوکم شيمر خلکو څخه نور ټول شاذ او کاږه شوی ؤ په داسې حال کې چې جماعت ؤ په هغه وخت کې قاضيان، مفتيان، خليفه او پيروان يې واړه دشاذو له برخې څخه وو او امام احمد په تنهايي سره جماعت وو. داچې دخلکو عقلونو د داسې څه تحمل نه درلود نو خليفه ته يې وويل: ای اميرالمؤمنينه! آيا ته قاضيان، واليان، فقها او مفتيان دی واړه پر باطله دی او يواځې احمد بن حنبل په حق قرارلری؟ خلک نه پوهيږی چې احمد ورروسته له شکنجو، مجازاتو اوطولانی حبس څخه دغه مقام ته رسيدلی دی. لا الله لا نن شپه څومره تيرې شپې ته ورته ده. او دا داهل سنت وجماعت لپاره روښانه لاره ده ترڅو چې له پروردګارسره يې ملاقات کوی. مخکنې يې پر دغې لاره تللی او وروستنی يې هم دهغې منتظر دی {مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا} **"له مؤمنانو څخه ځيني داسي شخصيتونه شته چي له الله سره يې کړې ژمنه ربښتيا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی پخپله کړنلاره کښي هيڅ تبديلي را نه وستله"** [الأحزاب: ۲۳]

ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم». ۱

خلاصه دغه:

– **عبارت د:** «تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ، وَأُخِذَ مَالُكَ، فَاسْمَعْ وَأَطِعْ»؛ **«له خپل امير څخه دی اطاعت کوه، حتی که تا ووهی اومال دی واخلی اوبيا واوره او اطاعت کوه»، يو منکر زيادت دی او صحيح نه دی.**

– **او دهغه په فرض صحت سره، دمال داخيستلو او دشاه وهلوڅخه موخه، ظلم کول نه دی! بلکې دا دهغو کارونو څخه دی لکه تعزيرات او حدودو اقامه کول دی چې امام يې ترسره کوی.**

– **و جماعت: هغه څه دی چې دحق موافق وی او دمسلمانانو امام هغه څوک دی: چې پر هغه باندې اجماع وی او عادل دی او په کتاب او سنتو باندې حکم کوی.**

۱– إعلام الموقعين عن رب العالمين، د ابن قيم الجوزيه (ت: مشهور) (۵/۳۸۸–۳۹۰).

په پای کې:

دغه کتاب دغرب له منجنق نه په غوره، جامع او وړده کلام سره چې له ګټې او با ارزښته نکاتو څخه ډک، دی د شبهاتو دافع او دمشکلاتو حل کوونکی دی پای ته رسوم، او داسې یو کلام ویل دالله تعالی له فضل څخه دی چې هرچاته یې وغوارې ورکوی یې، نامتو امام ابن حزم رحمه الله فرمایي:

(قَالَ أَبُو مُحَمَّد) احتجت الطَّائِفَة الْمَذْكُورَة أَولا بِأَحَادِيث فِيهَا انقاتلهم يَا رَسُول الله قَالَ لَا مَا وصلوا وَفِي بَعْضهَا إِلَّا أَن نر كفرا بواحاً عنْدكُمْ فِيهِ من الله برهَان وَفِي بَعْضهَا وجوب الضَّرْب وَإِن ضرب ظهر أَحَدنَا وَأخذ مَاله وَفِي بَعْضهَا فَإِن خشيت أَن يسهرك شُعَاع السَّيْف فاطرح ثَوْبك على وَجهك وَقل إِنِّي أُرِيد أَن تبوء بإثمي وإثمك فَتكون من أَصْحَاب النَّار وَفِي بَعْضهَا كن عبد الله الْمَقْتُول وَلَا تكن عبد الله الْقَاتِل وَبِقَوْلِهِ تَعَالَى {واتل عَلَيْهِم نبأ ابْني آدم بِالْحَقِّ إِذْ قربا قرباناً فَتقبل من أَحدهمَا وَلم يتَقَبَّل من الآخر} الْآيَة

(قَالَ أَبُو مُحَمَّد) كل هَذَا لَا حجَّة لَهُم فِيهِ لما قد تقصيناه غَايَة التَّقَصِّي خَبرا خَبرا بأسانيدها ومعانيها فِي كتابنَا الموسوم بالاتصال إِلَى فهم معرفَة الْخِصَال وَنَذْكُر مِنْهُ إِن شَاءَ الله هَاهُنَا جملا كَافِيَة وَبِاللَّه تَعَالَى نتأيد أما أمره صلى الله عَلَيْهِ وَسلم بِالصبرِ على أَخذ المَال وَضرب الظّهْر فَإِنَّمَا ذَلِك بِلَا شكّ إِذا تولى الإِمَام ذَلِك بِحَق وَهَذَا مَا لَا شكّ فِيهِ أَنه فرض علينا الصَّبْر لَهُ وَإِن امْتنع من ذَلِك بل من ضرب رقبته إِن وَجب عَلَيْهِ فَهُوَ فَاسق عَاص لله تَعَالَى وَإِمَّا إِن كَانَ ذَلِك بباطل فمعاذ الله أَن يَأْمر رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم بِالصبرِ على ذَلِك برهَان هَذَا قَول الله عز وَجل {وتعاونوا على الْبر وَالتَّقوى وَلَا تعاونوا على الْإِثْم والعدوان} وَقد علمنَا أَن كَلَام رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لَا يُخَالف كَلَام ربه تَعَالَى قَالَ الله عز وَجل {وَمَا ينْطق عَن الْهوى أَن هُوَ إِلَّا وَحي يُوحى} وَقَالَ تَعَالَى {وَلَو كَانَ من عِنْد غير الله لوجدوا فِيهِ اخْتِلَافا كثيرا} فصح أَن كل مَا قَالَه رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَهُوَ وَحي من عِنْد الله عز وَجل وَلَا اخْتِلَاف فِيهِ وَلَا تعَارض وَلَا تناقض فَإِذا كَانَ هَذَا كَذَلِك فيقين لَا شكّ فِيهِ يدْرِي كل مُسلم أَن أَخذ مَال مُسلم أَو ذمِّي بِغَيْر حق وَضرب ظَهره بِغَيْر حق إِثْم وعدوان وَحرَام قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم إِن دماءكم وَأَمْوَالكُمْ وَأَعْرَاضكُمْ حرَام عَلَيْكُم فَإِذْ لَا شكّ فِي هَذَا وَلَا اخْتِلَاف من أحد من الْمُسلمين فالمسلم مَاله للأخذ ظلما وظهره للضرب ظلما وَهُوَ يقدر على الِامْتِنَاع من ذَلِك بِأَيّ وَجه أمكنه معاون لظالمه على الْإِثْم والعدوان وَهَذَا حرَام بِنَصّ الْقُرْآن وَأما سَائِر

الْأَحَادِيث الَّتِي ذكرنَا وقصة ابْني آدم فَلَا حجَّة فِي شَيْء مِنْهَا أما قصَّة ابْني آدم فَتلك شَرِيعَة أُخْرَى غير شريعتنا قَالَ الله عز وَجل {لكل جعلنَا مِنْكُم شرعة ومنهاجاً} وَأما الْأَحَادِيث فقد صَحَّ عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم من رأى مِنْكُم مُنْكرا فليغيره بِيَدِهِ إِن اسْتَطَاعَ فَإِن لم يسْتَطع فبلسانه فَإِن لم يسْتَطع فبقلبه وَذَلِكَ أَضْعَف الْإِيمَان لَيْسَ وَرَاء ذَلِك من الْإِيمَان شَيْء وَصَحَّ عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لَا طَاعَة فِي مَعْصِيّة إِنَّمَا الطَّاعَة فِي الطَّاعَة وعَلى أحدكُم السّمع وَالطَّاعَة مَا لم يُؤمر بِمَعْصِيَة فَإِن أَمر بِمَعْصِيَة فَلَا سمع وَلَا طَاعَة وَإنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ من قتل دون مَاله فَهُوَ شَهِيد والمقتول دون دينه شَهِيد والمقتول دون مظْلمَة شَهِيد وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَام لتأمرن بِالْمَعْرُوفِ ولتنهون عَن الْمُنكر أَو ليعمنكم الله بِعَذَاب من عِنْده فَكَانَ ظَاهر هَذِه الْأَخْبَار مُعَارضا للْآخر فصح أَن إِحْدَى هَاتين الجملتين ناسخة لِلْأُخْرَى لَا يُمكن غير ذَلِك فَوَجَبَ النّظر فِي أَيهمَا هُوَ النَّاسِخ فَوَجَدنَا تِلْكَ الْأَحَادِيث الَّتِي مِنْهَا النَّهْي عَن الْقِتَال مُوَافقَة لمعهود الأَصْل وَلما كَانَت الْحَال فِيهِ فِي أول الْإِسْلَام بِلَا شكّ وَكَانَت هَذِه الْأَحَادِيث الْأُخَر وَارِدَة بشريعة زَائِدَة وَهِي الْقِتَال هَذَا مَا لَا شكّ فِيهِ فقد صَحَّ نسخ معتن تِلْكَ الحاديث وَرفع حكمهَا حِين نطقه عَلَيْهِ السَّلَام بِهَذِهِ الْأُخَر بِلَا شكّ فَمن الْمحَال الْمحرم أَن يُؤْخَذ بالمنسوخ وَيتْرك النَّاسِخ وَأَن يُؤْخَذ الشَّك وَيتْرك الْيَقِين وَمن ادّعى أَن هَذِه الْأَخْبَار بعد أَن كَانَت هِيَ الناسخة فَعَادَت مَنْسُوخَة فقد ادّعى الْبَاطِل وَقفا مَا لَا علم لَهُ بِهِ فَقَالَ على الله مَا لم يعلم وَهَذَا لَا يحل وَلَو كَانَ هَذَا لما أخلا الله عز وَجل هَذَا الحكم عَن دَلِيل وبرهان يبين بِهِ رُجُوع الْمَنْسُوخ نَاسِخا لقَوْله تَعَالَى فِي الْقُرْآن تبياناً لكل شَيْء وبرهان آخر وَهُوَ أَن الله عز وَجل قَالَ {وَإِن طَائِفَتَانِ من الْمُؤمنِينَ اقْتَتَلُوا فأصلحوا بَينهمَا فَإِن بَغت إِحْدَاهمَا على الْأُخْرَى فَقَاتلُوا الَّتِي تبغي حَتَّى تفيء} لم يخْتَلف مسلمان فِي أَن هَذِه الْآيَة الَّتِي فِيهَا فرض قتال الفئة الباغية محكمَة غير مَنْسُوخَة فصح أَنَّهَا الحاكمة فِي تِلْكَ الْأَحَادِيث فَمَا كَانَ مُوَافقا لهَذِهِ الْآيَة فَهُوَ النَّاسِخ الثَّابِت وَمَا كَانَ مُخَالفا لَهَا فَهُوَ الْمَنْسُوخ الْمَرْفُوع وَقد ادّعى قوم أَن هَذِه الْآيَة وَهَذِه الْأَحَادِيث فِي اللُّصُوص دون السُّلْطَان

قَالَ أَبُو مُحَمَّد وَهَذَا بَاطِل مُتَيَقن لِأَنَّهُ قَول بِلَا برهَان وَمَا يعجز مُدع أَن يَدعِي فِي تِلْكَ الْأَحَادِيث أَنَّهَا فِي قوم دون قوم وَفِي زمَان دون زمَان وَالدَّعْوَى دون برهَان لَا تصح وَتَخْصِيص النُّصُوص بِالدَّعْوَى لَا يجوز لِأَنَّهُ قَول على الله تَعَالَى بِلَا علم وَقد جَاءَ عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَن سَائِلًا سَأَلَهُ عَن من طلب مَاله بِغَيْر

حق فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَام لَا تعطه قَالَ فَإِن قاتلني قَالَ قَاتله فَإِن قَتله قَالَ إِلَى النَّار قَالَ فَإِن قتلني قَالَ فَأَنت فِي الْجنَّة أَو كلَاما هَذَا مَعْنَاهُ وَصَحَّ عَنهُ عَلَيْهِ السَّلَام أَنه قَالَ الْمُسلم أَخُو الْمُسلم لَا يسلبه وَلَا يَظْلمه وَقد صَحَّ أَنه عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ فِي الزَّكَاة من سَأَلَهَا على وَجههَا فليعطها وَمن سَأَلَهَا على غير وَجههَا فَلَا يُعْطهَا وَهَذَا خبر ثَابت رويناهُ من طَرِيق الثِّقَات عَن أنس بن مَالك عَن أبي بكر الصّديق عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم وَهَذَا يبطل تَأْوِيل من تَأَوِيل أَحَادِيث الْقِتَال عَن المَال على اللُّصُوص لَا يطْلبُونَ الزَّكَاة وَإِنَّمَا يطْلبُهُ السُّلْطَان فاقتصر عَلَيْهِ السَّلَام مَعهَا إِذا سَأَلَهَا على غير مَا أَمر بِهِ عَلَيْهِ السَّلَام وَلَو اجْتمع أهل الْحق مَا قاواهم أهل الْبَاطِل نسْأَل الله المعونة والتوفيق

(قَالَ أَبُو مُحَمَّد) وَمَا اعْترضُوا بِهِ من فعل عُثْمَان فَمَا علم قطّ أَنه يقتل وَإِنَّمَا كَانَ يراهم يحاصرون فَقَط وَهُوَ لَا يرَوْنَ هَذَا الْيَوْم للْإِمَام الْعدْل بل يرَوْنَ الْقِتَال مَعَه ودونه فرضا فَلَا حجَّة لَهُم فِي أَمر عُثْمَان رَضِي الله عَنهُ وَقَالَ بَعضهم إِن فِي الْقيام إِبَاحَة الْحَرِيم وَسَفك الدِّمَاء وَأخذ الْأَمْوَال وهتك الأستار وانتشار الْأَمر فَقَالَ لَهُم الْآخرُونَ كلا لِأَنَّهُ لَا يحل لمن أَمر بِالْمَعْرُوفِ وَنهي عَن الْمُنكر أَن يهتك حريماً وَلَا أَن يَأْخُذ مَالا بِغَيْر حق وَلَا أَن يتَعَرَّض لمن لَا يقاتله فَإِن فعل شَيْئا من هَذَا فَهُوَ الَّذِي فعل مَا يَنْبَغِي أَن يُغير عَلَيْهِ وَأما قَتله أهل الْمُنكر قَالُوا أَو كَثُرُوا فَهَذَا فرض عَلَيْهِ وَأما قتل أهل الْمُنكر النَّاس وَأَخذهم أَمْوَالهم وهتكهم حريمهم كُله من الْمُنكر الَّذِي يلْزم النَّاس تَغْيِيره وَأَيْضًا فَلَو كَانَ خوف مَا ذكرُوا مَانِعا من تَغْيِير الْمُنكر وَمن الْأَمر بِالْمَعْرُوفِ لَكَانَ هَذَا بِعَيْنِه مَانِعا من جِهَاد أهل الْحَرْب وَهَذَا مَالا يَقُوله مُسلم وَإِن ادّعى ذَلِك إِلَى سبي النَّصَارَى نسَاء الْمُؤمنِينَ وَأَوْلَادهمْ وَأخذ أَمْوَالهم وَسَفك دِمَائِهِمْ وهتك حريمهم وَلَا خلاف بَين الْمُسلمين فِي أَن الْجِهَاد وَاجِب مَعَ وجود هَذَا كُله وَلَا فرق بَين الْأَمريْنِ وكل ذَلِك جِهَاد وَدُعَاء إِلَى الْقُرْآن وَالسّنة

(قَالَ أَبُو مُحَمَّد) وَيُقَال لَهُم مَا تَقولُونَ فِي سُلْطَان جعل الْيَهُود أَصْحَاب أمره وَالنَّصَارَى جنده وألزم الْمُسلمين الْجِزْيَة وَحمل السَّيْف على أَطْفَال الْمُسلمين وأباح المسلمات للزِّنَا وَحمل السَّيْف على كل من وجد من الْمُسلمين وَملك نِسَاءَهُمْ وأطفالهم وأعلن الْعَبَث بهم وَهُوَ فِي كل ذَلِك مقرّ بِالْإِسْلَامِ مُعْلنا بِهِ لَا يدع الصَّلَاة فَإِن قَالُوا لَا يجوز الْقيام عَلَيْهِ بل قيل لَهُم أَنه لَا يدع مُسلما إِلَّا قَتله جملَة وَهَذَا أَن ترك أوجب ضَرُورَة أَلا يبْقى إِلَّا هُوَ وَحده وَأهل الْكفْر مَعَه فَإِن أَجَازُوا الصَّبْر على هَذَا خالفوا الْإِسْلَام جملَة وانسلخوا مِنْهُ وَإِن قَالُوا بل

يُقَام عَلَيْهِ وَيُقَاتل وَهُوَ قَوْلهم قُلْنَا لَهُم فَإِن قتل تِسْعَة أعشار الْمُسلمين أَو جَمِيعهم إِلَّا وَاحِد مِنْهُم وَسبي من نِسَائِهِم كَذَلِك وَأخذ من أَمْوَالهم كَذَلِك فَإِن منعُوا من الْقيام عَلَيْهِ تناقضوا وَإِن أوجبوا سألناهم عَن أقل من ذَلِك وَلَا نزال نحيطهم إِلَى أَن نقف بهم على قتل مُسلم وَاحِدًا أَو على امْرَأَة وَاحِدَة أَو على أَخذ مَال أَو على انتهاك بشرة بظُلْم فَإِن فرقوا بَين شَيْء من ذَلِك تناقضوا وتحكموا بِلَا دَلِيل وَهَذَا مَالا يجوز وَإِن أوجبوا إِنْكَار كل ذَلِك رجعُوا إِلَى الْحق ونسألهم عَمَّن غصب سُلْطَانه الجائر الْفَاجِر زَوجته وَابْنَته وَابْنه ليفسق بهم أَو ليفسق بِهِ بِنَفسِهِ أهوَ فِي سَعَة من إِسْلَام نَفسه وَامْرَأَته وَولده وَابْنَته للفاحشة أم فرض عَلَيْهِ أَن يدْفع من أَرَادَ ذَلِك مِنْهُم فَإِن قَالُوا فرض عَلَيْهِ إِسْلَام نَفسه وَأَهله أَتَوا بعظيمة لَا يَقُولهَا مُسلم وَإِن قَالُوا بل فرض عَلَيْهِ أَن يمْتَنع من ذَلِك وَيُقَاتل رجعُوا إِلَى الْحق وَلزِمَ ذَلِك كل مُسلم فِي كل مُسلم وَفِي المَال كَذَلِك.

قَالَ أَبُو مُحَمَّد وَالْوَاجِب أَن وَقع شَيْء من الْجور وَإِن قل أَن يكلم الإِمَام فِي ذَلِك وَيمْنَع مِنْهُ فَإِن امْتنع وراجع الْحق وأذعن للقود من الْبشرَة أَو من الْأَعْضَاء ولإقامة حد الزِّنَا وَالْقَذْف وَالْخمر عَلَيْهِ فَلَا سَبِيل إِلَى خلعه وَهُوَ إِمَام كَمَا كَانَ لَا يحل خلعه فَإِن امْتنع من إِنْفَاذ شَيْء من هَذِه الْوَاجِبَات عَلَيْهِ وَلم يُرَاجع وَجب خلعه وَإِقَامَة غَيره مِمَّن يقوم بِالْحَقِّ لقَوْله تَعَالَى {وتعاونوا على الْبر وَالتَّقوى وَلَا تعاونوا على الْإِثْم والعدوان} وَلَا يجوز تَضْييع شَيْء من وَاجِبَات الشَّرَائِع وَبِاللَّهِ تَعَالَى التَّوْفِيق.

ترجمه: «يوې ډلې دخلکو په داسې احاديثو سره احتجاج کړی چې هغوکې دبيلګې په توګه راغلی دی: {ای دالله ﷻ رسوله! ﷺ له هغو سره ونجګيږو، وی فرمايل: نه تر هغه وخت پورې چې لمونځ ادا کوی} او په ځنې نورو رواياتو کې راغلی: {مګرداچې بواح کفر (ترې) ووينې چې دالله ﷻ له لوری پرهغه باندې دليل او برهان ولري} او بعضو رواياتو کې دصبر کولو پر وجوب باندې امر شوی اګرکه زمونږ ديوه شا ووهی او مال مو راخخه واخلی. او بعضو نورو کې راغلی که وويريدې چې د تورې بريښنا دی وينې وساتی، نو لباس دی پر صورت باندې خور کړه او ووايه: ﴿إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ﴾ [المائدة: ٢٩] **«زه غواړم چې زما او ستا خپله ګناه ستا پرغاړه شي او دوږخي شې. همدا د ظالمانو د ظلم وړ سزا ده».**

او په ځنې نورو روياتو کې راغلي: دالله ﷻ هغه بنده اوسه چې وژل کيږی نه هغه بنده چې وژل کوی، دالله تعالی دغه فرمودې ته په پام سره ﴿۞وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ﴾ [المائدة: ۲۷]

«او دوی ته [آې محمد (ص)] د ادم د دوو زامنو (هابيل او قابيل) کيسه هم بشپړه واوروه؛ کله چې هغوی دواړو قرباني وکړه، نو له هغو څخه د يوه (هابيل) قرباني قبوله شوه او د بل (قابيل) قبوله نه شوه. دغه (قابيل) وويل: "زه به تا ووژنم!" هغه (هابيل) ځواب ورکړ: "الله خو يوازي د پرهېزگارانو نذرونه قبلوي"».

(ابو محمد ابن حزم فرمايي) د دوې لپاره په هيڅ يوه په دغو (اثارو) کې حجت شتون نلری مونږ يو يو له دغو اخبارو څخه له اسنادو او معناو سره په خپل کتاب په نامه دی «الاتصال إلى فهم معرفة الخصال» کې په مکمله توگه را وړی دی او ان شاء الله تعالی دالله تعالی په مرسته به دلته هم په هغه اندازه چې کفايت وکړی په اړه به يې توضيح ورکووم. اما د رسول الله ﷺ امر کول په صبر کولو سره دمال داخيستلو او دشا دوهلو په اړه، نو دغه کارپرته له شک نه هغه وخت دی چې امام دا کار په حقه سره تر سره کړی او پرته له شک نه پرمونږ فرض دی چې په داسې حالت کې صبر وکړو اگرکه هم له صبرکولو څخه خود داری وکړی. مثلا دکوم کس چې غاړه وهل کيږی په داسې حالت کې چې غاړه وهل يی پرې واجب شوی وی نو هغه کس فاسق او عاصی دی {نو بايد دغاړی پروهلوېې صبر وکړی}. او که ورمېږ وهل يې پرباطله وی نو پناه پر الله ﷻ باندې چې رسول الله ﷺ دی د داسې څه په اړه دصبر کوولو امر ورکړی وي. او دهغه دليل دالله تعالی دغه فرمان دی:: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ﴾ [المائدة: ۲]

«کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چې د گناه او تيري وي، په هغو کښې د هيچا ملاتړ مه کوئ».

په تحقيق سره وپوهيدلو چې درسول الله ﷺ کلام دخپل پروردگار له کلام سره يې مخالفت نکوی. الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤﴾ [النجم: ۳-٤]

«دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛ دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي».

او فرمايي ﴿وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ٨٢﴾ [النساء: ۸۲]

«که دا د الله پرته د کوم بل چا له لوري وای، نو په ده کښې به ډېر گډوډ بيان موندل کېدی».

نو هر هغه څه چې رسول الله ﷺ فرمایی دالله تعالی له لوری وحی ده او دهغه په کلام کې له قرآنکریم سره اختلاف تناقض او تعارض وجود نلری، نو کله چې دا رنګه دی، نو پرته له شکه په یقین سره هرمسلمان په دې پوهیږی چې دیوه مسلمان یا ذمی مال اخیستل هغه هم په ناحق سره او ورمیږ یې وهل پرته له حق نه ګناه تجاوز او حرام (کار) دی. رسول الله فرمایلی دی: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ [المائدة: ٤٨] «موږ ستاسي څخه د هر یوه لپاره یو شریعت او یوه عملي تګلاره ټاکلې ده. ». او هغه احادیث چې پرته له شک نه له رسول الله ﷺ څخه په صحت رسیدلی چې فرمایلی دي: {لتاسو څخه چې هرچا یومنکر ولید حتما که یې وکولای شول په لاس سره د تغیر کړی؛ که یې په لاس سره ونشو کړای، نو په ژبه دي دهغه مخه ونیسی، که یې په (ژبه هم) ونشو کړای، نو په زړه کې دی هغه بد و ایسوی او دا دایمان له ضعیف ترینه برخو څخه دی او وروسته له هغه څخه دایمان څه وجود نلری}. او له رسول الله ﷺ څخه په صحت رسیدلی چې ویلی دي: {دالله تعالی په نافرمانۍ کې اطاعت شتون نلری بلکې اطاعت کول له الله تعالی څخه داطاعت په مسیر کې دی او هریو لتاسو څخه تر هغه وخته باید اطاعت وکړی او وایې وري چې دالله تعالی په معصیت او نافرمانۍ باندې امر شوی نه یاست، نوکه پر معصیت باندې امر وشو نو بیا نه اطاعت شته او نه هم اوریدل}. او داشان رسول الله ﷺ فرمایلی: {هرڅوک چې دخپل مال لپاره ووژل شي هغه شهید دی، او هرڅوک چې دخپل دین لپاره ووژل شي هغه شهید دی، او هرڅوک چې پرهغه دظلم کولو له امله مړ شي هغه شهید دی}. او دا رنګه فرمایلی دی: {یاخو حتما په معروف باندې امرکوي او له منکر څخه نهی کووي یا الله تعالی پرتاسې ټولوپ(عمومی) عذاب را نازل وي}. ظاهرا دغه اخبار له نورو اخبارو سره په تعارض کې دي نو باید وکتل شي ترڅو ښکاره شي چې کوم یو یې ناسخ دی. او وینو کومو احادیثو چې له قتال څخه نهی کړی ده، دهغه قدیمی او اولی اصل سره موافق دی بی له شکه چې داسلام په ابتدا کې وضعیت همدا رنګه وو. او دغه نور احادیث هم له شریعت سره نور اضافه راغلی چې هم هغه قتال دی، او دا هم په صحت کې یې شک نشته. نو ثابته شوه کله چې رسول الله ﷺ دغه احادیث فرمایلی وو، هغه اولیه احادیث نسخ او حکم یې لری شوی دی، داخو محال او حرام دی چې منسوخ واخلي او ناسخ پریږدي او یا داچې شک واخلی او یقین ترک کړي. او هرڅوک چې دا ادعا وکړی چې دغه اخبار چې ناسخ ؤ دوباره منسوخ شوی نو دا یوه باطله ادعا ده چې دی یې کووی او هغه څه یې ویلی چې پرهغه باندې علم نلری او پرالله تعالی یې پرته له علم څخه خبری تړلی او داسی یو کار حلال نه دی. که چیرته دارنګه وای نو الله تعالی په دلیل اوبرهان سره دمنسوخ ګرځیدلو حکم او دوباره بدلیدل یې په ناسخ سره بیان ولو ځکه چې الله تعالی فرمایی قرانکریم تبیان او روښانه کوونکی دهرڅه دی. او بل دلیل داچې الله تعالی فرمایی: ﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ

مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ فَإِنۢ بَغَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا عَلَى ٱلۡأُخۡرَىٰ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِۚ﴾ [الحجرات: ۹]

«او که له مؤمنانو څخه دوې ډلي پخپلو منځو کښي په جنګ شي، نو د هغو په منځ کښي صلح وکړئ. بيا که له هغو څخه يوه ډله پر بلي تېری وکړي، نو له تيري کوونکي (ډلي) سره وجنګېږئ، تر دې پوري چي هغوی د الله د حُکم خوا ته راوګرځي».

مسلمانان په دې کې هيڅ اختلاف نلری چې په دغه آيت کې له ياغې ډلی سره دقتال د فرضيت په اړه راغلی دی، او آيت هم محکم او غير منسوخ دی. نو دغه آيت پرهغو احاديثو باندې حاکم دی. اوکوم څه چې مخالف د دغه آيت وو نو هغه منسوخ دي او حکم يې لری شوی دی. او يوه ډله ادعا کوی چې دغه آيت او احاديث دلارې وهونکو شوکمارانو او غلو په اړه دي نه دسلطان په اړه.

ابو محمد ابن حزم وايي: يقينا دا يو باطل څه دی ځکه چې پرته له دليل څخه خبره کول دي او هرڅوک کولی شي ادعا وکړی چې دغه احاديث ديو مشخص قوم يا يوه مشخص وخت په اړه دی، خو پرته له کوم دليل څخه ادعا کول سم کار نه دی

او دنصوصو تخصيصول په ادعا کولو سره جايز نه دی. ځکه چې داسې يو کار په الله ﷻ پورې پرته له علم څخه خبرې تړل دي او په تحقيق سره له رسول الله ﷺ نه روايت شوی چې يوه سوال کوونکی له ده څخه دهغه چا په اړه وپوښتل چې دهغه مال پرته له حق څخه غواړی، رسول الله هم وفرمايل: {مال دی هغه ته مه ورکوه. وی ويل: که له ماسره وجنګيد؟ وی فرمايل: له هغه سره وجنګيږه. وی ويل: که هغه مې وواژه؟ وی فرمايل: دوزخ ته ځي. ومې ويل: که زه يې مړ کړم؟ وی فرمايل: نوته به په جنت کې يې}. يا هغه کلام چې په همدې معنا سره دی وی ويلو. او داشان له ده ﷺ نه په صحت سره رسيدلی چې وې فرمايل: {مسلمان د مسلمان ورور دی اموال يې نه سلب وی او پرهغه باندې ظلم نکوی}. او داشان له هغه ﷺ څخه په صحت سره رسيدلی دهغه چا په اړه چې دذکاة دمال دجمع کولو درخواست کووی سوال وشو. وي فرمايل: هرڅوک چې ذکات چې پرکومی وجي دی وغواړی ذکات د هغه ته ورکړی او هرڅوک چې بغير له وجې دهغه نه يې وغواړی نو هغه د نه ورکوي. او دا خبر، يو ثابت حديث دی چې هغه يې دثقاتو له طريق له انس بن مالک له ابو بکر صديق له رسول الله ﷺ څخه مو روايت کړی. او دغه روايت دهغو کسانو تأويل چې مربوطه احاديث په قطاع طريقو او غلو باندې تأويل کوی باطل وی ځکه چې غل او قطاع طريق د ذکات دجمع کولو درخواست نکوی بلکې يواځې سلطان دذکات دجمع کولو درخواست کووی. نو قتال هرچاته شامليږی بغير له هغې وجهی چې رسول الله ﷺ پر هغې باندې امر کړی د ذکات درخواست

يې کړې وي. نو که چيرته اهل حق سره يوځای شي اهل باطل دهغو پر وړاندې مقاومت نشي کولی، له الله تعالی څخه دتوفيق اومرستي غوښتونکی يو...

(ابو محمد ابن حزم فرمايي) هغوی ته ويل کې چې څه وا يي: دهغه سلطان په اړه چې يهودان يې خاوندان دامر او نصارايې پوزيان ګرځولی او پرمسلمانانو يې جزيه الزامی کړې اوتورې يې دمسلمانانو پر اولادونو را ايستلی او دمسلمانو ميرمنی يې دزنا لپاره مباح ګرځولی او پر هرمسلمان چې وې مومی توره را وباسی اولاد او ښځې يې تصاحب شی او له هغو څخه ناوړه کار واخلی او په ټولو دغو حالاتو کې په اسلام اقرار وکړی او هغه اعلام کړی او لمونځ هم ترک نکړی ؟ نو که وې ويل چې دهغه پر وړاندې قيام جايز نه دی، هغو ته ويل کيږی دوي هيڅ مسلمان نه پريږدی مګر داچې هغه ووژنی، نوکه داسې حاکم پر خپل حال پريښودل شي نو بغير له ده او اهل کفر چې له ده سره مل دی باقی نه پاتی کيږی. نو که صبر کوول پر داسې کس باندې جايز وبلي نو کلا يې له اسلام سره مخالفت کړی او له اسلام نه وتلي دي. او که وی ويل: بلکه بايد دهغه پر وړاندې قيام وکړو او له هغه سره وجنګيږو. هغوي ته وايو که چيرته نه خو له لسم دمسلمانانو او يا واړه مسلمانان، بلکې يو له هغو څخه ووژنی او داشان ميرمنی يې خپلی کنيزی کړی او مالونه يې ترې واخلی، که دهغه پر وړاندې له قيام کولو څخه مخ نيوی وکړی په تناقض کې اخته کيږی او که دهغه پر وړاندې يې قيام. مو واجب وباله نو له هغو څخه په دې اړه حداقل دهغه په اندازه پوښتنه کوو، او هميشه دوی دخپلی احاطې لاندې نيسو تردې چې له هغو سره ديوه نارينه مسلمان يا زنانه مسلمانې په قتل کې يا دمال په اخيستلو يا دبشری ظالمانه بيعزتی سره، متوقف شو. نو که په يوڅه د دغو کې يې توپير کيښود بيا په تناقض کې اخته شوی او بلادليله تحکم يې کړی دی چې داسې يو څه جايز نه دي. او که له ټولو دغو کارونو څخه يې انکار واجب وبللو نو بيا دحق لورته راګرځيدلی دی. او له هغو څخه دهغه چاپه اړه پوښتو چې جائر او فاجر سلطان يې ميرمن يا لور اويا زوی يې په زور سره تری اخيستی ترڅو دهغو په وسيلی سره يو د فسق عمل ترسره کړی او يا په خپله شخصا له هغه سره يو بد عمل ترسره کړی، آيا دهغه په وسعت اوګنجايش کې دی چې ځان ميرمن زوی او لوريې دفاحشه کاری لپاره تسليم کړی، او يا داچې پرده باندې فرض ده چې دهغه چا پروړاندې چې غواړی داسې يو کار وکړی له هغه نه دفاع وکړی؟ نو که وې ويل پر هغه باندې فرض دی چې ځان او اهل يې تسليم کړی، نو بياخوېې ډيره عظيمه خبره کړی ځکه چې هيڅ مسلمان دارنګه خبره نکوی. او که وې ويل: بلکې پرهغه باندې فرض دی چې د دارنګه کار مخ نيوی وکړی او له هغو سره وجنګيږی، نو بيا دحق لورته راګرځيدلی دی او د داسې يو څه منل دهرمسلمان لپاره او دهرمسلمان په حق کې لازم دي، او داموالو په اړه هم همداسې دی.

ابو محمد فرمایي: او واجب دی که یوځه دظلم او ستم ترسره شول، اګرکه هم لیږ وی، باید په اړه یې له امام سره خبرې وشي او دی له هغه کار څخه منع کړل شی که چیرته یې له هغه ستم څخه لاس واخیست اودحق لورته را وګرځید اوله خلکو یا اعضاؤ څخه یې دقصاص په اخیستلو کې، اذعان وکړ، دزنا، شرابو او قذف حد یې اقامه کړ نو دهغه دخلع کولو لپاره بیا لاره شتون نلری، اوهغه به امام وی او خلع یې جایز نه ده. خو که د دغو واجباتو له کوم شي څخه یې ابا وکړه او دحق لور ته را ونګرځید، نو بیا دهغه خلع او پرځای یې دبل کس درول واجب دي؛ لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ﴾ [المائدة: ۲]

«نه! کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالنې دي، په هغو کښې له یوبل سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چې د ګناه او تیري وي، په هغو کښي د هیچا ملاتړ مه کوئ».

او دشریعت د واجباتو دهیڅ شي ضایع کول جایز نه دی. وبالله تعالی التوفیق [1] انتهی

۱- الفصل في الملل والأهواء والنحل د ابن حزم (۴/۱۳۲-۱۳۵).